



# په کابل زون کې د جګړې او سولې محلي محرکات:

## د سولې لپاره د محلي غونډې موندنې




اکتوبر ۲۰۲۱

***د سولې په لور*** د فریډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنې موسسې (ORPPA) او د سولې د پراختیا او تنظیمولو لپاره د افغانستان میډیوټیک (OPDAM) ګډه پروژه ده.

دغه پروژه په اوو زونونو (کندهار، هرات، بلخ، بدخشان، بامیان، ننګرهار او کابل) کې د سولې فرصتونو او پر وړاندې یې شته محلي خنډونو په اړه د منظمې نظرونو او راکړه ورکړې اسانه کولو لپاره ډیزاین شوې ده.

دغه پروژه د سولې لپاره محلي غونډې جوړوي ترڅو افغانان «هرڅای چې وي» د خبرو اترو، نظر راکړه ورکړې او فعالیتونو له لارې د شخړو هوارولو په برخه کې ونډه واخلي. په پایله کې، دغه پیښې د سولې لپاره د یوه ګډ لیدلوري رامنځته کولو په موخه د تولنې په کچه د یوه فعال مشارکت هڅونه کوي. تصویري رسنیزې خپرونې او تولیدات مرسته کوي چې ملي، محلي او نړیوال ګټه اخیستونکي په دې اړه خبر شي او په راتلونکې کې د ګډون لپاره سپارښتنې وړاندې کړي.

دغه لنډیز د سعید پرتو او مارتا لګراند له خوا د فرډریش ایبرټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او د سولې د پراختیا او تنظیمولو لپاره د افغانستان میډیوټیک (OPDAM) ترمنځ د همکاریو د یوې برخې په توګه چمتو شوی دی.

د ۲۰۲۱ کال د اګسټ په ۲ نیټه، د سولې لپاره محلي غونډه په کابل ښار کې جوړه شوه چې په کې د کابل، پنجشیر او کاپیسا ولایتونو د مدني ټولنې استازو او محلي چارواکو ګډون درلود. د کابل غونډه داسې مهال جوړه شوه چې طالبانو په خورا چټکۍ د هیواد ګڼې سیمې تر خپل کنټرول لاندې راوستي وې. طالبان په رسمي توګه د ۲۰۲۱ کال د اګسټ په ۱۵ مه په رسمي توګه کابل ته ننوتل. د دغه لنډیز د وروستي کولو پرمهال (د ۲۰۲۱ اکتوبر)، طالبانو د ټول هیواد کنټرول په واک کې درلود او خپل لومړنی سرپرست حکومت یې جوړ کړل.

لاندې ټکي باید د سولې په بین الافغاني پروسه کې له یوه مهالني ټکي څخه د عمومي تصویر په توګه په پام کې ونیول شي، که څه هم دغه مهال بې ثباتي د طالبانو د چټک پرمختګ له امله لوړ حد ته رسیدلي وه او کابل ته د طالبانو په ننوتلو او د واک په نیولو سره، پای ته ورسیده. لاندې د هر ولایت لومړني دیموګرافیک، جغرافیایي، اقتصادي او جنګي وضعیت ته عمومي کتنه شوې او وریسې د غونډې شرحه وړاندې شوې. د لنډیز یا نچوړ په پای کې د بحثونو عمومي پایلې ځای پرځای شوې دي.

**مخینه**


کابل ولایت د افغانستان په کچه د ښاري نفوس تر ټولو لوی او متنوع جمعیت لري او په کابل ښار کې سره راټول شوی دی. کاپیسا په مرکز محمود راقي او نجراب کې کوچنی او متراکم ښاري نفوس لري. د پنجشیر ټول اوسیدونکي په کلیوالي استوګنځایونو کې ژوند کوي (۱ جدول او ۱ شکل).

کابل د غیر رسمي کاري ځواک، کډه شویو کاګرانو او له ګاونډو ولایتونو څخه را بېځایه شویو کورنیو د جذب اصلي ځای دی. هغوی نسبتاً غوره خدمتونو او کار ته د لاسرسي او دغه راز د امنیت له امله کار ته راځي.

**۱ جدول: د نفوسو اټکل (۲۰۲۰)**

| ولایت | ټول نفوس | ښاري | کلیوالي |
|---|---|---|---|
| کابل | ٥,۲۰٤,٦٦۷ | ٤,٤٥۹,٤٦۳ | ۷٤٥,۲۰٤ |
| کاپیسا | ٤۸۸,۲۹۸ | ۱,۷۷۰ | ٤۸٦,٥۲۸ |
| پنجشیر | ۱٦۹,۹۲٦ | ۰ | ۱٦۹,۹۲٦ |

**۱ شکل: د ښاري او کلیوالي نفوس ونډه**



په پنجشیر او کاپیسا ولایتونو کې د بیوزلۍ کچه شاوخوا ۲۵ سلنه ده. په کابل کې د بیوزلۍ کچه ۱۵ سلنه اټکل شوې. د بیوزلۍ ملي منځنۍ کچه ۵۲ سلنه ده (UNDP, 2020). له دې سره، دېته په کتو سره چې د بیوزله ښاري نفوس نیږدې نیمایي هغه په کابل ښار او شاوخوا ځنډو کې ژوند کوي، د دغو شمیرو په اړه د بحث ځای شته (CSO, 2018).

د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ٦ مه د طالبانو لاس ته له ورتګ څخه وړاندې، پنجشیر ولایت هیڅکله له باندنیو نظامي بریدونو سره نه و مخ شوی او تر وروستۍ دورې پورې یې هم له امنیتي پلوه نسبي ثبات درلود؛ که څه هم امنیتي وضعیت ډېر ښه نه و خو د اقتصادی له پلوه خورا فقیر پاتې وو.

کابل او کاپیسا ولایتونه په وروستیو کالونو کې د دولت د مخالفو وسله والو ډلو او دولتي ځواکونو ترمنځ د جګړو او نښتو ډېرېدلو کوربه وو.

**کابل** له شمال ختیځ پلوه په پروان او کاپیسا، له ختیځ پلوه په لغمان، له سوېل ختیځ پلوه په ننګرهار، له سوېل پلوه په لوګر او له سوېل لوېدیځ پلوه په وردګ ولایت پورې تړلی دی. دغه ولایت د افغانستان د پلازمینې کابل ښار په ګډون ۱۵ ولسوالۍ لري. د کابل اټکلي نفوس ۵.۴ میلیون تنه ښودل شوی چې لویه برخه یې، یانې ۴.٦ میلیون تنه په کابل ښار کې اوسیږي.

کابل ښار ګڼې ناحیې او ګذرونه لري چې په کې بیوزله، بډایه او داسې بیځایه شوې کورنۍ اوسیږي چې له سخت بیوزلۍ سره مخامخ دي. دغه ولایت د کورنیو بیځایه شویو ډېرې برخې ته ځای ورکړی او د ښار په غیر رسمي او اطرافي استوګنځایونو کې ژوند کوي. (CSO, 2018).

په کابل ولایت د هېواد د ټول نفوس لویه برخه اوسیږي؛ یانې د ملي نفوس شاوخوا ۱٦ سلنه (Warden,2019). د کابل د خلکو اصلي ژبه دری ده خو د پام وړ نفوس په پښتو ژبه هم خبرې کوي او دغه راز د نفوس یوه کوچنۍ برخه په ازبکي او ترکمني ژبو غږیږي.

په ټول ۲۰۲۰ کال او همدارنګه د ۲۰۲۱ کال په لومړۍ نیمایي کې، د وسله والو فعالیتونه او دغه راز هغو سیمو کې جګړې ډېرې شوې چې په تیره کې خوندي ګڼل کیدې (OCHA, February 2020; OCHA, July 2020).

په داسې حال کې چې کابل پر ملکي وګړو د بریدونو په ګډون د بریدونو اصلي موخه وه، خو دغه بریدونه د ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ په ۲۹ مه د طالبانو او متحده ایالتونو ترمنځ له هوکړې څخه وروسته د پام وړ کم شوي دي. له دې سره، د یاد هوکړه لیک له لاسلیک کیدو څخه وروسته دوه ستر بریدونه شوي.

یو له دغو بریدونو د ۲۰۲۰ کال د مې په میاشت کې د یوه روغتون پر ولادي ځانګه وشو چې په کې برید کوونکو زچه میندې، تازه زیږېدلي ماشومان او میندواره ښځې ووژلې. دویم برید یو کال وروسته د ۲۰۲۱ کال په مې میاشت کې د نجونو پر یوه ښوونځي وشو خو طالبانو په دغو دواړو بریدونو کې خپل لاس لرل رد کړل.

د فبرورۍ د ۲۹ مې هوکړه لیک په کابل کې د جنایي فعالیتونو پر کچې ډېر لږ اغیز درلود. منظم جنایي باندونه د نیشه یي توکو پر قاچاق سربیره، په وسله والو غلاوو، موټر غلا کولو او جیب وهلو بوخت وو. ګڼ شمیر خلک له قرباني کیدو څخه د وېرې لرلو له امله، د هوا له تیاره کیدو وروسته، له خپلو کورونو څخه نه وتل (Arab News, January 11, 2020).

**کاپیسا** له سوېل پلوه په کابل، له لوېدیځ پلوه په پروان، له ختیځ پلوه په لغمان او شمال پلوه په پنجشیر ولایت پورې تړلی دی. د دې ولایت مرکز محمود راقي د کابل ښار په ۷۵ کیلومترۍ کې پروت دی. د کاپیسا نفوس شاوخوا ۴۹۷.۰۰۰ تنه اټکل شوی دی چې نیږدې ٦۸.۰۰۰ تنه یې په محمود راقي او پاتې نور په کلیو او ولسوالیو کې اوسیږي.

په ټول هیواد د طالبانو له واکمنیدو څخه څو کاله وړاندې، د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱٦ مه، کاپیسا ولایت د طالبانو، نورو مخالفو وسله والو ډلو او دولتي ځواکونو ترمنځ د جګړو زیاتیدلو کوربه او زیانمن و. د جګړو دوام د محلي وګړو اقتصاد او ژوند په مستقیمه توګه تر اغیز

لاندې درلود (Ali, 2015).

**پنجشیر** چې د کاپیسا ولایت په شامل کې پروت دی له لوېدیځ پلوه په بغلان، له سوېل لوېدیځ پلوه په پروان، له سوېل ختیځ پلوه په لغمان او نورستان ولایتونو پورې تړلی دی. د ولایت مرکز بازارک د کابل ښار په ۱۵۰ کلیومتري کې پروت دی.

نیږدې ټول ولایت غرنی یا نیمه غرنی دی. پنجشیر دره یوه لرې پرته او له لاسرسي وتلې سیمه ده. د ۱۹۹۶ تر ۲۰۰۱ کالو ترمنځ د طالبانو د لومړي حکومت پرمهال، پنجشیر هغه یوازینی ولایت و چې د طالبانو پر وړاندې یې مقاومت وکړ او طالبانو د هیواد په شمال ختیځ کې له څو لرې پرتو سیمو پرته، پر ټول هیواد حکومت وکړ.

پنجشیر ۱۶۹.۹۲۶ تنه نفوس لري او په اتو ولسوالیو کې اوسیږي. د پنجشیر ولایت مرکز بازارک ۲۲.۰۰۰ تنه نفوس لري. دېته په کتو سره چې پنجشیر لرې پروته ولایت او د ملي رهبر احمد شاه مسعود زېږنځای دی، د پنجشیریانو ترمنځ هم په ولایت دننه او هم له ولایت څخه د باندې د هویت په اړه یو قوي او متحد احساس شته دی (Shah, 2018).

طالبانو د تیرو څو کالو پرمهال هیله درلوده چې یوه ورځ به د پنجشیر ولایت کنټرول د هغه ستراتیژیک اهمیت ته په کتو، ترلاسه کړي (Roggio, 2019). طالبانو ظاهراً د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ٦ مه خپله دغه هیله پوره کړه، یانې هغه مهال چې بیلابیلو سرچینو راپور ورکړ چې هغوی پنجشیر ته ننوتي او د ولایت مرکز یې نیولی او پر بیلابیلو دولتي ودانیو یې خپل بیرغ رپولی دی. (BBC, September 7, 2021).

## د کابل زون د سولې غونډه:

### کتنه

ټولټال ٦۰ تنو د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۲ مه د کابل زون د سولې په غونډه کې ګډون درلود چې له ډلې یې ۲۴ تنه ښځې او ۳٦ تنه نارینه وو. په ګډونوالو کې د محلي مدني ټولو غړي، سپین ږیري، مخورې ښځې، محلي مشران، د ځوانانو استازي او د محلي حکومت چارواکي شامل وو.



FES, MADPO, APPRO

د هغو نورو محلي غونډو په څیر چې له دې وړاندې جوړې شوې وې، ګډونوال په څو ګروپونو ووېشل شول او له هر ګروپ څخه غوښتنه وشوه چې په خپله ټولنه کې د جګړې اصلي عوامل او محرکونه په ګوته کړي. همدارنګه د ګروپونو د ګډونوالونه غوښتنه وشوه چې د جګړې د عواملو څیړنې او د تل پاتې سولې لپاره د شرایطو رامنځته کولو لپاره اړینې لارې وړاندې کړي.

ورپسې د ګروپي بحثونو پایلې د ګډونوالو سره شریک شوې. په اخر کې پنل دوو نارینه او دوو ښځینه کارپوهانو څخه جوړو شو او خپل نظریات یې وړاندې کړل. د پنل تشکیل په لاندې ډول شوې وو: د پنجشیر د ښځو چارو ریاست یوه استازې، د ښځو د عالي شورا یوه سلاکاره، یو تن پخوانی خبریال چې اوسمهال په کابل ښاروالۍ کې کار کوي او د سولې په چارو کې د دولت وزارت یو تن استازی.

ګډونوالو ته وخت ورکړل شو چې د ګروپي پرېزنټېشنونو په اړه غور او نظر څرګند او د پنل له غړیو څخه پوښتنې مطرح کړي. د سولې بین الافغاني پروسه چې د ۲۰۲۰ په سپټمبر کې پیل شوه، هغه موضوع وه چې په ګروپي بحثونو، ګروپي پرېزنټېشنونو، د پنالیستانو په ځوابونو او د مخاطبانو په پوښتنو کې ډېر ځله ورته اشاره وشوه. د سولې اړوند لیدلوري او د جګړې هغه محلي عوامل په لاندې ډول دي چې ګډونوالو ورته اشاره وکړه:

### د سولې په اړه تمې او وړاندوېینې

ګډونوال د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او طالبانو

ترمنځ د خبر اترو په اړه سخت بدبین وو.

لوی اټکل دا و چې که سوله وشي، جګړه به پای ته ورسیږي. ګڼو ګډونوالو اټکل کاوه چې د امنیت ښه کیدو او ثبات راتلو په صورت کې به د بالقوه پانګوالو باور ترلاسه شي، راکړه ورکړه او سوداګري به وده وکړي او په ځانګړې توګه د عامه سکټور اړوند د روغتیا او پوهنې په برخو کې به کارونه زیات شي او دا هر څه به له یو بل سره په ګډه، د اقتصادي وضعیت ښه کیدو سبب شي.

د جګړې په کمیدو سره به کورنۍ بیځایه کیدنه هم کمه شي او په دې سره به پر هغو ښاري زیربناوو او خدماتي مرکزونو هم فشارونه کم شي چې اوسمهال اړ دي ښاري مرکزونو ته راکډه شوي زیاتیدونکي بیځایه شوي تر پوښښ لاندې ونیسي.



FES, MADPO, APPRO

په پراخه کچه وړاندې شوی لیدلوری دا و چې په دولت کې د طالبانو شتون کولای شي د قانون د اغیزناک تطبیق او اداري فساد د کمیدو سبب شي.

نیږدې ټولو ګډونوالو وړاندوینه وکړه چې د بشپړ طالبانو حکومت جوړیدل ښايي د لږکیو حقوق تر پښو لاندې کړي او د پرګنو ترمنځ د کړکیچ او درځ زیاتیدو شدید خطر ته لاره هواره کړي. ښايي ښځې په ځانګړې توګه له ټولنیزې، سیاسي او اقتصادي حوزې څخه د ګوښه کیدلو له خطر سره مخامخ شي او د کورني تاوتریخوالي پر وړاندې لا زیانمنې شي.

- موږ د حقوقي برابرۍ لپاره ډېره هڅه او مبارزه کړې ترڅو ښځې او نران د بیان له یوشان آزادۍ څخه برخمن شي... دغه څه په اسانۍ نه دي ترلاسه شوي بلکې د ډېرو مبارزو، کړاوونو او قربانیو په پایله کې ترلاسه شوي دي. له دې سره، اوس وګورئ چې موږ چیرې روان یو. موږ یو ځل بیا چادري اغوستلو، جهالت او سنګسار ته ورګرځو؛ هغه وضعیت چې ۵۲ کاله وړاندې مو تجربه کړ- ۱ شمیره پنالیسته ښځه.

د طالبانو تر واک لاندې دولت کې بله اندېښنه د عادي وګړو او رسنیو ترمنځ اطلاعاتو ته د لاسرسي لنډېدل او د بیان آزادۍ له لاسه ورکول ده. همدارنګه، ګډونوالو اندېښنه لرله چې طالبان ښايي په ځانګړې توګه د نجونو لپاره پوهنې ته د لاسرسي او منځپانګې ساحه را تنګه کړي.

د حقونو په برخه کې فعالې مدنې ټولنې هم ښايي له طالباني قواعدو او بنسټونو سره د ایډیالوژیکي ناسمون له امله، د کار او فعالیت حق له لاسه ورکولو خطر سره مخامخ شي.

د ځینو ګډونوالو اټکل دا و چې ثبات به له لاسه ووځي او د سولې د بین الافغاني پروسې له لارې له سیاسي توافق پرته، ښايي امنیتي وضعیت له پخوا څخه ډېر بدتر شي. دغه شمیر ګډونوالو په ځانګړې توګه د هغو ټولنو ترمنځ د کړکیچونو زیاتیدو ته اشاره لرله چې اور ته یې د قومي، ژبنیو او ایډیالوژیکي توپیرونو له خوا پکه وهل کیږي.

بله لویه اندېښنه د شخړو او جګړو د بیلابیلو ډولونو له منځه وړلو لپاره له جنګي ټکان او د تاوتریخوالي له نهادینه کیدو څخه عبارت وه. د تاوتریخوالي د زیاتیدو لوړ خطر شته او وي به. محلي زورواکي او جنايي باندونه ښايي له سیاسي بدلون څخه د خپلو شخصي ګټو یا له نورو کسانو څخه د غچ اخیستلو لپاره د یوه فرصت په توګه ګټه واخلي.

د ځینو ګډونوالو په اند، ډېر لږ احتمال شته چې طالب جنګیالي د په اسانۍ سره وسلې وسپاري او مدني ژوند ته د ستانه شي.

ګډونوال د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د ټولنو او ایډیالوژیو ترمنځ د کړکیچونو او دغه راز له ښځو او لږکیو سره د نهادینه شوي تبعیض پر وړاندې یو ملاتړ او اجرایي ضمانت ګڼي.

**د جګړې محلي محرکات**

د جګړې هغه څلور محلي عوامل په لاندې ډول دي چې د کابل غونډې ګډونوالو په ګوته کړل:

- کمزوری اقتصاد
- د نیشه يي توکو اقتصاد
- د ټولنو ترمنځ شته کړکیچونه او
- د قانون د حاکمیت نه شتون

**کمزوری اقتصاد**

د وزګارتیا لوړه کچه هم په ښاري او هم په کلیوالو سیمو کې د بیوزلۍ پراخیدو سبب شوې. د ژوند لګښتونو په پوره کولو کې د اکثریت کورنیو پاتې راتګ، د دولت له مخالفو وسله والو ډلو سره د ځوانانو د یو ځای کیدو دلیل ګڼل شوی.



FES, MADPO, APPRO

د پراخې بیوزلۍ له منځه وړل د ملي او نړیوالو موسسو له خوا په ثابتو تولیدي اقتصادي فعالیتونو کې پانګونې او له دغو فعالیتونو څخه د ملاتړ لپاره د کافي زیربناوو شتون ته اړتیا لري.

په ښاري مرکزونو کې دایمي تولیدي فعالیتونه باید له ټکنالوژۍ څخه د پراخې ګټې اخیستنې، بازار ته د لاسرسي زیاتیدو او د کیفیت ښه کیدو له لارې پیاوړي او پراخ شي.

همدارنګه، د اوبه لګونې سیستمونو د پیاوړتیا، مکانیزه کولو، د کیفیت کنټرولولو او بسته بندۍ له لارې د کرنیزو تولیداتو د ښه کولو اړتیا هم لا نه ده پوره شوې.

د کانونو سپړنې په سکټور کې له پرېمانه ستونزو سربیره، د کانونو د رسمي استخراج کچه باید لوړه شي او ترې لاسته راغلي عواید د نیږدې ټولو د ژوند ښه کولو او عامه خدمتونو لپاره وکارول شي.

پورته یادې ټولې هلې ځلې، په لوړو دولتي او نړیوالو سطحو کې د جدي هوډ او ارادې شتون ته اړتیا لري.

**د نیشه يي توکو اقتصاد**

د تریاکو او هیروینو د تولید او تجارت له پخواني دود سربیره، په کلیوالو سیمو کې د کیمیاوي او ترکیبي مخدره موادو د صنعت پیدا کیدل، په دې وروستیو کالو کې د یوې لویې اندېښنې لامل ګڼل کیږي.

د یوه ګډونوال په خبره، په هر ډول ښه د نیشه يي توکو تولید یوازې هغه مهال بندېدای شي چې د عاید ترلاسه کولو نورې لارې رامنځته شي. دغه ننګونه لاهم په خپل ځای پاتې ده چې څنګه کولای شو داسې تلپاتې او مشابه کلیوالي معیشتونه معرفي کړو چې د نیشه يي توکو د تولید ځای ونیسي.

- تر اوسه، د کوکنارو د کښت لپاره یوازینی مناسب ځای ناستی، په هرات کې د زعفرانو کرکلیه ده؛ هغه چې د ۲۰۰۲ کال په لومړیو کې پیل شوه او بیا نورو ولایتونو ته هم وغځېده (د مدني ټولنې نارینه غړی).

نورو ګډونوالو یادونه وکړه چې د نیشه يي توکو له اقتصاد څخه رامنځته شویو ګواښونو څېړل، له مخدره موادو سره د مبارزې لپاره پر سازماني هڅو سربیره، د محلي چارواکو او دیني عالمانو د ګډون له لارې ټولنیز ملاتړ ته اړتیا لري. جوماتونه باید د کوکنارو بزګرانو ته د مشوره ورکولو او د زعفرانو په څیر د نورو بدیلو بوټو کرلو ته د هغوی د هڅولو په برخه کې لا ډېر بنسټیز رول ولوبوي. د یوه پنالیست په خبره:

- جوماتونه یوازې د لمانځه ځای نه دی. خلک په جوماتونو کې خپلې ستونزې او دعواوې هواروي او د فرهنګي ستونزو په اړه بحثونه کوي. جومات هغه ځای چې اکثریت خلک په کې معلومات ترلاسه کوي. که چیرې رسنۍ وواییې چې نیشه یي توکي زیان اړوونکي دي، اغیز به یې د هغه مهال په پرتله ډېر کم وي چې دغه خبره د دیني رهبرانو له منبر څخه خپره شي ـ ۱ شمیره نارینه پنالیست.

همدارنګه، ګډونوالو غوښتنه وکړه چې د نیشه یي توکو او په ځانګړې توګه د صنعتي او ترکیبي نیشه یي توکو له خطرونو څخه د خلکو خبرولو په لاره کې پرله پسې هڅې وشي. یو شمیر له دوی وړاندیز وکړ چې د نیشه یي توکو پر وړاندې عامه پوهاوی باید د ښوونځیو په درسي نصاب کې ځای پرځای شي.

**د ټولنو ترمنځ کړکیچونه**

د جګړو د زیاتیدو په اړه د اندېښنو یو لوی لامل د بیلابیلو ایډیالوژیکي، قومي او ژبنیو ډلو ترمنځ په کړکیچ او شخړو پورې اړه لري.

په کابل کې، د وروستیو کالو پرمهال پر شیعه ټولنو هدفي بریدونه د داسې وېرې او ډار زیاتیدو سبب شوي چې په هغه دولت کې چې قومي او مذهبي لړکي څنډه ته کوي، دغه شان ټولنې ښایي تر پخوا ډېر له تبعیض او ناوړه چلند سره مخامخ شي. یو قوم پاله دولت کولای شي په بالقوه توګه د ټولنو ترمنځ شته درځونه پراخ کړي، پخواني اختلافونه بیا را ژوندي او محلي رهبرانو ته انګیزه ورکړي چې خپل قوم او ایډیالوژیکي ډلې ته پر نورو لومړیتوب او غوره توب ورکړي.

ګینو ګډونوالو احساسوله چې په بیلابیلو ټولنو کې د مختلفو ګروپونو ترمنځ د پوهاووي او متقابل احترام زیاتولو لپاره، باید لا ډېر کارونه ترسره کړو. له تبعیض سره د مبارزې احکامو له تنفیذ څخه د ډاډ ترلاسه کولو، د یوه ولایت ټولو اوسیدونکو ته د قانوني او نورو سرچینو له یوشان وېشلو څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره اړتیا ده چې د عامه پوهاوي او بنسټیزو ګامونو یو ګډ ترکیب تر لاس لاندې ونیول شي.

ګډونوالو له قومي او عقیدتي تعصب سره د مبارزې او د ملي یوالي د ټینګښت لپاره د یوې وسیلې په توګه پر زده کړه او معارف ټینګار درلود.

**د قانون د حاکمیت نه شتون**

له قانون څخه سیستماتیکې سرغړونې ته په بیلابیلو ټولنو کې د شخړو د لوی لامل په توګه اشاره شوې، په ځانګړې توګه د هغو چارواکو قانون ماتونه چې خپله د قانون د تنفیذ دنده لري.



FES, MADPO, APPRO

په عدلي – قضایي نظام کې خپل ګمارنه او پراخ فساد د یوه داسې قضایي نظام د جوړېدو سبب شوي چې شدیداً د هغو متنفذو افرادو په سرچینو پورې تړلی چې عمومي توګه یې پر دولتي بنسټونو د خلکو پر باور منفي اغیز کړی.

د ګینو عادي وګړو له انده، ځواکمن، متجاوز او فساد دولتي چارواکي د قدرت په یوه داسې عالي یا نخبه ډله بدل شوي چې خلکو ته د خدمت کولو یا د ولسي مکلفیتونو ترسره کولو ته لیوالتیا نه لري.

د قانون د دغه شان نا حاکمیت څېړلو لپاره د ټول عدلي – قضایي نظام بشپړې بیا کتنې او رغونې ته اړتیا ده. دغه پروسه باید د عدلي نظام د خپلواکۍ، په ولسي ګروپونو کې د خلکو راغونډېدو، د خلکو د حقونو په اړه د خلکو د پوهاوي او د دغو حقونو د لاسته راوړلو څرنګوالي ترلاسه شي.

## پایله

تیر تـه پـه کتـو او د ۲۰۲۱ کال د اگسـټ پـه ۱۵ مـه پـر کابـل د طالبانـو لـه واکمنیـدو وروسـته، ښـایي د تعجـب ځـای نـه وي چـې د ۲۰۲۱ کال د اگسـټ پـه ۲ مـه د کابـل زون پـه غونـډه کـې، د سـولې د بیـن الافغاني خـبرو اتـرو د پایلـو پـه اړه شـدید بدبینـي موجـوده وي.

د سـولې د نـورو غونـډو پـه څـیر، عمومـي وړاندوېینـه دا وه چـې د جگـړې کمیـدل د خلکـو د ځـور او بېځایـه کېدنـو د کمیـدو سـبب کیـدای شي. ګنـو ګډونوالـو بـاور درلـود چـې د داسـې یـوه دولـت شـتون چـې اکثریـت طالبـان پـه کـې شـتون ولـري، د قانـون د اغیزنـاک تطبیـق او اداري فسـاد د کمیـدو سـبب کیـدای شي.

داسـې اندېښـنې هـم شـته چـې د طالبانـو تـر کنټـرول لانـدې دولـت ښـایي د ښـځو او لږکیـو د حقونـو نقضولـو تـه ادامـه ورکـړي او د ولـس د مختلفـو برخـو ترمنـځ د شـدیدو کړکیچونـو او اختلافونـو خطـر لا زیـات کـړي. لـه عمومـي لیدلـوري، دغـه شـان یـوه دولـت لـه دې وړانـدې هـم د مدني ټولنـې کمـزوري کولـو او د حقوقـي سـازمانونو پـر وړانـدې خنډونـو جوړولـو تـه کار ویلـی و. د طالبانـو لـه خـوا قومـي او مذهبـي تعصبـات د ټولنـو ترمنـځ د کړکیچونـو زیاتیـدو تـه لاره هـواروي. د سـولې د ټینګښـت پـه صـورت کـې د طالـب جنګیالیـو د ملکـي کولـو پـه اړه هـم جدي اندېښـنې پـه ډاګـه شـوې. د پخوانیـو جنګیالیـو او نـورو وسـله والـو ډلـو ترمنـځ جنـګ جګـړې پـه تاوتریخجنـه بڼـه او د اختلافونـو لـه منځـه وړلـو لپـاره د وسـلې کارولـو د دوام پـه پایلـه کـې، راکمیـدای شـوای.

ګـڼ شـمیر ګډونوالـو وړاندوېینـه کولـه چـې د وزګارتیـا لـوړه کچـه، بیـوزلي او خوراکـي نـا امنـي او د لږکیـو ناهیـلي بـه دېتـه پـه کتـو سره ادامـه ولـري چـې لـه ۶۰ سـلنه ډېـر نفـوس لـه ۲۵ کالـو کـم عمـر لـري.

دغـه شـمیرې کـولای شي د سرچینـو او فرصتونـو پـر سر لـه سـیالیو څخـه راپورتـه شـوې ټولنیـزې شـخړې او فاصلـې لا پـراخ کـړي او خلـک د نیشـه یـي توکـو د تولیـد او قاچاق پـه څـیر د عایـد ترلاسـه کولـو د نامـشروع سرچینـو کارولـو تـه وهڅـوي او پـه دې سره عمومـي ثبـات، مدنیـت او د قانـون واکمنـي وننګـوي.

د پراخـې بیوزلـۍ لـه منځـه وړل د مـلي او نړیوالـو موسسـو لـه خـوا پـه ثابتـو تولیـدي اقتصـادي فعالیتونـو کـې پانګونـې او له دغـو فعالیتونـو څخـه د ملاتـړ لپـاره د کافي زیربنـاوو شـتون تـه اړتیـا لـري.

د نـورو ټکانونـو پـه څـیر، د طالبانـو په راتـګ سره د افغانستان پـه سـیاسي وضعیـت کـې بدلـون بـه هـم نـوي فرصتونـه او هـم ننګونـې رامنـځ تـه کـړي.

د سـولې لپـاره پالیسـي جـوړول ـ د جګـړې پـای تـه رسـولو، د نیشـه یـي توکـو د صنعـت ویجاړولـو او د بلواګـرۍ د فرصتونـو لـه منځـه وړلـو لپـاره ـ بایـد پـه تـیرو ۲۰ کالـو کـې د لاس تـه راغلیـو تجربـو او د هغـو عواملـو، لاملینـو او مکانیزمونـو د تحلیـل پـر بنسـټ وي چـې د جګـړې د دوام سـبب کیـږي. یـوه مهمـه زده کـړه او تجربـه دا ده چـې د نیشـه یـي توکـو پـر سر جګـړه لـه ۲۰۰۱ کال راهیسـې د افغانستان د بیارغونـې پـه اوږدو کـې، لـه ماتـې سره مخامـخ شـوه. دا واقعیـت چـې طالبانـو د نړیوالـو ځواکونـو لـه ۲۰ کلـن شـتون سربـیره یـو ځـل بیـا واک ترلاسـه کـړ، د افراطیـت پـر وړانـدې جګـړه کـې د یـوې لویـې ماتـې او ناکامـۍ ځرګندونـه کـوي.

پـه پـای کـې دا چـې د افغانسـتان د ټولنیـزو او اقتصـادي ننګونـو د هوارولـو لپـاره د نړیوالـې ټولنـې هـرډول هڅـه اوسـمهال د افغانسـتان د نویـو واکمنانـو پـه توګـه لـه طالبانـو سره پـه مصالحـې او سـیاسي توافـق پـورې اړه لـري.

***تصدیق***

د پوښتنې انځور د محمد عارف کریمي له خوا اخیستل شوی.

***قانوني یادونه او د مسؤلیت نه منل***

© د کاپي او نورو ټولو حقونو حق د APPRO، MADPO او FES موسسو لپاره خوندي دی.

د دې اثـر هېـڅ یـوه برخـه لـه APPRO (www.appro.org.af) موسسـې، MADPO (www.mediothek-afghanistan.org) او FES (www.afghanistan.fes.de) څخـه لـه لیکلـې اجـازې پرتـه، د بیـا تولیـد او د بیـا موندلـو پـه سیسـټم کـې د زېرمـه کولـو وړتیـا نـه لـري او اجـازه نـه شـته چـې پـه هـره بڼـه یـا د هـرې وسـیلې پـه کارولـو سره بـل ځـای تـه ولېـږدول شي.

## اخځلیکونه او سرچینې:


Ali, O. (2015). *Fire in the Pashai Hills: A two-district case study from Kapisa.* Afghanistan Analysts Network (AAN). War and Peace. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/fire-in-the-pashai-hills-a-two-district-case-study-from-kapisa/

Foschini, F. (2015). *Classics of Conflict (2): Reviewing some of Afghanistan's most notorious hotspots.* Afghanistan Analysts Network (AAN). War and Peace. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/classics-of-conflict-2-reviewing-some-of-afghanistans-most-notorious-hotspots/

Foschini, F. (2014). *Elections 2014 (6): Two types of security in the Shomali*. Afghanistan Analysts Network (AAN). Political Landscape. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/political-landscape/elections-2014-6-two-types-of-security-in-the-shomali/

Foschini, F. (2012). *In Kabul's Shadow: the attacks in the provinces on 15-16 April.* Afghanistan Analysts Network (AAN). War and Peace. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/in-kabuls-shadow-the-attacks-in-the-provinces-on-15-16-april/

International Crisis Group (ICG) (2020). *Crisis Watch – Overview. Afghanistan.* June 2020. Available at: https://www.crisisgroup.org/crisiswatch/july-alerts-and-june-trends-2020

Islamic Republic of Afghanistan. Central Statistics Organization (CSO). (2018). *Afghanistan Living Conditions Survey 2016-2017*. Kabul: CSO.

Islamic Republic of Afghanistan. National Statistics and Information Authority (NSIA) (2021). *Afghanistan Statistical Yearbook 2020.* Issue No: 42. Available at: https://www.nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2021/04/Afghanistan-Statistical-Yearbook-first-Version.pdf

Lead Inspector General (IG) (2019). *Operation Freedom's Sentinel.* Lead Inspector General Report to the United States Congress. Available at: https://media.defense.gov/2020/Feb/21/2002252796/-1/-1/1/LEAD%20INSPECTOR%20GENERAL%20FOR%20OPERATION%20FREEDOM'S%20SENTINEL.PDF

Mansfield, D. (2020). Emerging evidence of Afghanistan's role as a producer and supplier of ephedrine and methamphetamine. European Monitoring Centre for Drugs and Drug Addiction. November 2020. https://www.emcdda.europa.eu/publications/ad-hoc-publication/emerging-evidence-of-afghanistans-role-as-a-producer-and-supplier-of-ephedrine-and-methamphetamine_en

NBC news (2021). *Bomb kills at least 30 near girls' school in Afghan capital.* World. NBC News. Available at: https://www.nbcnews.com/news/world/bomb-kills-least-25-people-near-school-afghan-capital-n1266741

Reporterly. (2021). *16 Al-Qaeda Members Killed in Kapisa: MoD.* Available at: http://reporterly.net/live/newsfeed/live-narration-of-news-march-1-2021/16-al-qaeda-members-killed-in-kapisa-mod/

Roggio, B. (2019). *Taliban threatens Panjshir province.* Long War Journal. Available at: https://www.longwarjournal.org/archives/2019/08/taliban-threatens-panjshir-province.php

Rubin, B.R. and A. Guáqueta (2007). Fighting Drugs and Building Peace: Towards Policy Coherence between Counter-Narcotics and Peace Building (New York: Friedrich-Ebert-Stiftung), available from: https://library.fes.de/pdf-files/bueros/usa/04992.pdf

Shah, A. (2018). *2017 causalties: nearly 25,000 people killed, wounded in Afghanistan.* Pajhwok Afghan News. January 2018. Available at: https://pajhwok.com/2018/01/14/2017-causalities-nearly-25000-people-killed-wounded-afghanistan/

United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), and United Nations Human Rights Office for High Commissioner (UNOHCHR) (2021). *Afghanistan: Protection of Civilians in Armed Conflict.* Annual Report 2020. February 2021. Kabul, Afghanistan.

United Nations Development Programme (UNDP). (2020). *Pitfalls and Promises: Minerals Extraction in Afghanistan.* Afghanistan Human Development Report 2020. Available at: https://www.af.undp.org/content/afghanistan/en/home/library/human_development/NHDR-2020.html

United Nations Environment Programme (UNEP) (2016). Climate change in Afghanistan. What does it mean for rural livelihoods and food security? November 2016. Available at: https://postconflict.unep.ch/publications/Afghanistan/Afg_CC_RuralLivelihoodsFoodSecurity_Nov2016.pdf

United Nations Office on Drugs and Crime (UNODC). (2021). *Afghanistan Opium Survey 2020. Cultivation and Production – Executive Summary.* April 2021. Available at: https://www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan/20210503_Executive_summary_Opium_Survey_2020_SMALL.pdf

United Nations Organization for the Coordination of Humanitarian Affairs (OCHA). (2020). *Afghanistan: Weekly Humanitarian Update (January 27 – February 2 2020).* February 2, 2020. Available at: https://www.humanitarianresponse.info/sites/www.humanitarianresponse.info/files/documents/files/afghanistan-humanitarian_weekly-02_february.pdf

United Nations Organization for the Coordination of Humanitarian Affairs (OCHA). (2020). *Afghanistan: Weekly Humanitarian Update (13 – 19 July 2020).* July 19, 2020. Available at: https://www.humanitarianresponse.info/sites/www.humanitarianresponse.info/files/documents/files/afghanistan_humanitarian_weekly_22_july-2.pdf

United Nations Security Council (UNSC). (2020). *Letter dated May 19 2020 from the Chair of the Security Council Committee established pursuant to resolution 1988 (2011) addressed to the President of the Security Council.* UN Doc. S/2020/415. May 27 2020. Available at: https://documents-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/N20/110/60/PDF/N2011060.pdf?OpenElement

United Nations World Food Programme (WFP). (2013). *Kabul Provincial Profiles*. Available at: https://web.archive.org/web/20130628090105/http:/www.foodsecurityatlas.org:80/afg/country/provincial-Profile/Kabul

Warden, S. (2019). *Past a Prologue? What the parliamentary election results tell us about the September presidential election.* Political Landscape. Afghanistan Analysts Network (AAN). August 23, 2019. https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/political-landscape/past-as-prologue-what-the-parliamentary-election-results-tell-us-about-the-september-presidential-election/